**د پوښتنو تعداد:( ۵۰ )**

**د پښتنو ډولونه ( تشریحی، څلور ځوابه، )**

**د مضمون عنوان: ( تعلیم وتربیه)**

**ټولګي: ( اتم )**

**د آتم ټولګی د تعلیم او تربیې تشریحی سوالونه:**

**لومړی سوال:** لاندې کلمات معنا کړې؟

( یَغرِسُ) (غَرساً) (یَزرِعُ)

**دویم سوال:** لاندې کلمات معنا کړئ؟

(حَسَّنَهُ) (فَمَن غَشَنَاَ) ( فَلَیسَ مِنَّا)

**دریم سوال:** د احادیثو د مشهور راوي عبدالله ابن عمررضی الله عنه په اړه لنډ معلومات ولیکئ؟

**څلورم سوال:** لاندې حدیث شریف ترجمه کړئ؟

( عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رَسُولُ اللهِ صَلَی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَم مَازَال جِبرِیلُ یُو صِینی بِالجَارِ حَتّی ظَنَنتُ أنَّهُ سَیُوَرِسُهُ) متفق علیه

**پینځم سوال:** لاندې کلمات معنا کړئ؟
( لَیؤمِنُ) ( الجار) ( بَوَائِقَهُ)

**شپږم سوال:** لاندې حدیث شریف ترجمه کړئ؟

( عَن ابی هریره رضی الله عنه أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: أِیَّاکُم وَالحَسَد فأِنَ الحَسَدَّ یَأکُلو الحَسَنَاتِ کَمَا تَأکلُ النّارُ الحَطَبَ) رواه ابوداود.

**اووم سوال:** حسد څه ته وایي تعریف یې کړئ؟

**آتم سوال:** غبطه څه ته وایي؟

**نهم سوال:** د مور اوپلار د حقوقو په اړه یو حدیث شریف ولیکئ؟

**لسم سوال:** لاندې حدیث شریف ترجمه کړئ؟

(رِضَا اللهِ فی رِضَا الوَالِدَینِ، وَسَخَطِ اللهِ فی سَخَطِالوَالِدَینِ) رواه البیهقی فی شعب الایمان.

**یوولسم سوال:** یو مسلمان سوداګر باید کوم آداب ولري په لنډ ډول یې ولیکئ؟

**دوولسم سوال:** د رېښتیني او امین تاجر په اړه یو حدیث شریف ولیکئ؟

**دیارلسم سوال:** لاندې حدیث شریف ترجمه کړئ؟

(عن ابی سعیدالخدری رضی الله عنه قال: قال: رسول الله صلی الله علیه وسلم: .( التَّاجِرُ الصَّدُقُ الأَمِين مَعَ النَّبِّينَ وَالصَدِقِينَ وَالشُّهَدَءِ) المستدرک للحاکم.

**څوارلسم سوال:** بیع څه ته وایي تعریف یې کړئ؟

**پینځه لسم سوال:** ایجاب او قبول په بیع کې څه ته وایي بیان یې کړئ؟

**شپاړسم سوال:** عقد تعریف کړئ؟

**اووه لسم سوال:** د منقول او غیر منقول مال په اړه لنډ معلومات ولیکئ؟

**آته لسم سوال:** مبیعه او ثمن څه ته وایي بیان یې کړئ؟

**نولسم سوال:** د ګیلي او وزني شیانو په اړه لنډ معلوماتو ولیکئ؟

**شلم سوال:** متقارب عددیات کومو شیانو ته ویل کیږي بیان یې کړئ؟

**یوویشتم سوال:** متفاوت عددیات کومو شیانو ته ویل کیږي بیان یې کړئ؟

**دوه ویشتم سوال:** د بیعي رکن ولیکئ؟

**دری ویشتم سوال:** ثمن مسمی کوم ثمن ته ویل کیږي بیان یې کړئ؟

**څلور ویشتم سوال:** قیمت او تأجیل څه ته وایي؟

**پینځه ویشتم سوال:** تقسیط او دَین څه ته وایي؟

**شپږ ویشتم سوال:** غبن فاحش څه ته وایي؟

**اووه ویشتم سوال:** بیعه تعریف کړئ؟

**آته ویشتم سوال:** د بیعي حکم او رکن بیان کړئ؟

**نهه ویشتم سوال:** د بیعي تړون په څو طریقو ترسره کیږي بیان یې کړئ؟

**دیرشم سوال:** بیعه په فعل یا د تعاطی بعیه کومي بیعي ته وایي؟

**د آتم ټولګي د دیني ښووني او روزني څلور ځوابه سوالونه:**

**لومړی سوال:** شرط په لغت کې څه ته وایي؟ صحیح ځواب په نښه کړئ؟

الف: شرط په لغت کې د یوه شي قبلولو ته وایی. ب: شرط په لغت کې دیوه شي څخه انکار کولو ته وایي. ج: شرط په لغت کې: علامې او نښې ته وایي. د: ټول غلط دي.

**دوهم سوال:** د بیعي شرطونه په څو ډوله دي صحیح ځواب په نښه کړئ؟

الف: په څلور ډوله دي. ب: په دری ډوله دي. ج: په شپږ ډوله دي. د: ټول سم دي.

**دریم سوال:** بیع دحکم له نظره په څو ډوله ده؟

الف: په شپږ ډوله. ب: پینځه ډوله. ج: په څلور ډوله. د: ټول صحیح دي.

**ځلورم سوال:** د بيعې حکم په لاندې ځوابونو کې په نښه کړئ؟

الف: له تړون څخه وروسته سم دلاسه د مشترى ملکيت پکې ثابتيږي. ب: پرته له ايجاب او قبول څخه ملکيت ثابتيږي. ج: ملکيت ثابتيږي خو د خيارالرؤيت په صورت کې. د: هيڅ يو.

**پينځم سوال:** د صحيحې موقوفې بيعې حکم څه دی؟

الف: حکم يې دادی چې اصلاً ملکيت نه پکې ثابتيږي. ب: حکم يې دادی: چې د ملکيت ثابت کيدل د اصلي مالک په اجازه پورې تړلي وی. ج: ملکيت ثابتيږي پرته له شرط څخه. د: هيڅ يو.

**شپږم سوال:** بيعه د مبيعې له نظره په څو ډوله ده؟

الف: په څلور ډوله. ب: په پينځه ډوله . ج: په شپږ ډوله. د: ټول غلط دي.

**اووم سوال:** د ثمنو له نظره بيعه په څو ډوله ده؟.

الف: پينځه ډوله. ب: په اووه ډوله. ج: درى ډوله. د: په څلورډوله.

**آتم سوال:** مرابحه بيعه کومې بيعې ته وايي؟

الف: هغه بيعه ده چې په نغدو پيسو ترسره شی. ب: هغه بيعه ده چې د مال په مقابل کې وي. ج: په معلومه ګټه باندې د مال پلورلو ته مرابحه وايي. د: ټول غلط دي.

**نهم سوال:** خيار شرط په لغت کې څه ته وايي؟

الف: د مبيعې ليدلو ته وايي. ب: له مبيعې څخه انکار کولوته وايی. ج: خوښولو، ټاکلو او واک لرلو ته وايي. د: ټول غلط دي.

**لسم سوال:** د خيار شرط د روا والي حکمت په لاندې ځوابونو کې په نښه کړئ؟

الف: دخلکو دضرورت اواړتيا له مخې روا شوی. ب: د خلکو ترمنځ د ښه چلند په موخه روا شوي. ج: د خلکو دغوښتنې په اساس روا شوی. د: هيڅ يو.

**يوولسم سوال:** خيار رؤيت په لغت کې څه ته وايي؟

الف: له يوه شي څخه سمې استفادې ته وايي. ب: ليدلو ته وايی. ج: د يوه شي خرڅولو ته وايي. د: هيح يو.

**دوولسم سوال:** د خياررؤيت حکم په لاندې ځوابونو کې په نښه کړئ؟

الف: حکم يې: دمبيعې اخيستل دي. ب: حکم يې د مبيعې مروج قيمت دی. ج: مشتري د مال دليدلوپه وخت کې اختيار لرى چې بيعه فسخه کړي يايې قبوله کړي. د: ټول غلط دي.

**ديارلسم سوال:** د خيار عيب شرط تعريف کړئ؟

الف: خيار عيب د مشترى له انکار کولو څخه عبارت دی. ب: خيارعيب دمشتري هغه خيار ته ويل کيږي چې له امله يې عيب جن مال بيرته بايع ته رد کيدلای شي. ج: خيار عيب د بايع لخوا انکار کولو ته وايي. د: ټول غلط دي.

**څوارلسم سوال:** باطله بيع په لغت کې څه ته وايي؟

الف: په لغت کې د حق ضد ته وايي. ب: په لغت کې د يوه شي باطليدلو ته وايي. ج: په لغت کې د مبيعې فسخه کيدلو ته وايي. د: ټول غلط دی.

**پينځه لسم سوال:** د باطلې بيعې حکم څه دی؟

الف: حکم يې دمبيعې ثابيتدل دي. حکم يې له بيعې انکار کول دي. ج: پدې بيعه باندې ملکيت نه ثابتيږي که مشتري قبض کړي وي او کنه. د: ټول صحيح دي.

شپاړسم سوال: حبشي ته د مسلمانانو هجرت د نبوت په څووم کال ترسره شو؟

الف: د نبوت په پينځم کال. ب: په شپږم کال. ج: په دريم کال. د: په لسم کال.

**اووه لسم سوال:** د حبشې په دويم هجرت کې د مسلمانانو شمير څو تنه ؤ؟

الف: ۸۰ نفره. ب: ۱۰۲ نفره. ج: ۱۰۰ نفره. د: ۵۰ نفره.

**آته لسم سوال:** حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د بعثت په څووم کال د اسلام په مبارک دين مشرف شو؟

الف: دبعثت په شپږم کال. ب: په آتم کال. ج: په لسم کال. د: په پينځم.

**نولسم سوال:** عام الحزن ته ولې دغم کال وايي علت يې په لاندې ځوابونو کې په نښه کړئ؟

الف: ځکه چې پدې کال کې دير مسلمانان په شهادت ورسيدل. ب: ځکه چې پدې کال کې حضرت عمر فاروق وفات شو. ج: ځکه چې پدې کال کې دمسلمانانو تر منځ ډيرې ستونزې را منځته شوې. د: پدې کال کې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم تره ابوطالب او بی بی يې خديجه رضی الله عنها وفات شول.

**شلم سوال ځواب:** داسراء او معراج واقعه د بعثت په څووم کال پيښه شوه؟

الف: د بعثت په لسم کال. ب: د بعثت په شپږم کال. ج: د بعثت په اووم کال. د: ټول غلط دي.